**د افغانستان اسلامی جمهوری دولت**

**دلـــوړو زده کـړو وزارت**

**هــلـــمـــنـد پـــوهــنـتــون**

**ښونې او روزنې پوهنځي**

**ريـــاضـــي څـانـگـه**

**دوهـــم ټـولـگـــي**

**لومړي سـمـسـتـر**

# موضوع:

# په اسلام کې د سلام اچولو آداب


**استاد:نجم الدين عطاخيل (صافی)**

**ترتيب کوونکې : محيب الله (باوري)،محمد طاهر(سربلند)،مسعود (محمدی)او نقيب الله (خاکسار)**


**تحصيلي کال :** **۱۳۹۸هـ ش**

بسم الله الرحمن الرحیم

## سلام اچول

**اسلامی شریعت مسلمانانو څخه غوښتي چې کله يو دبل سره مخامخ کيږي سلام واچوي،چې البته د ( السلام عليکم ) ويل د سلامتی او عافيت هر اړخيزه جامع دعاء او هغه ته د خير غوښتني وعده ده ،په دی معنا چې الله تعالی دی تا په بشپړی سلامتی سره ونازوی ستا ځان او مال دی خوندی وساتی، ته او ستا اولاده خپل خپلوان او دوستان د روغ رمټ ولری.**

**په ګڼو شرعی نصوصو کی مسلمانان سلام اچولو ته هڅول شوی چې ځينی يی د بيلګی په توګه په لاندی ډول سره ذکر کوو:**

**۱: الله تعالی فرمايلی دی:**

**(و اذا حييتم بتحية فحيوا باحسن منها او ردوها) (سورت النساء،ايت ۸۶).**

**ژباړه: کله چې تاسی ته سلام واچول سی نو د هغه څخه په ښو الفاظو سره ځواب ورکړی يا په همغه الفاظو سره ځواب ورکړی.**

**۲: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی:**

**ژباړه: کله چې الله تعالی آدم (ع) پيداکړ نو الله تعالی ورته امر وکړ ،چې د ملايکو هغی ناستی ډلی ته ورشه او سلام ورته واچوه هغوی چې څرنګه ځواب درکړ هغه ښه واوره چې همداسی ويل ستا او ستا د اولادی سلام اچول دی کله چې آدم (ع) د ملايکو ټولګی ته ورسيده نو هغوی ته يی په دی الفاظو سره سلام واچوه چې ( السلام عليکم ) ملايکو ورته وويل: ( اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ وَرَحْمَةُ اللهِ ).**

**۳: نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی:(لا تدخلوا الجنة حتی تومنوا ولا تومنوا حتی تحابوا اولا ادلکم علی شیءٍ اذا فعلتموه تحاببتم افشوا السلام بينکم) (۳۱:۳۵)**

**ژباړه: تر هغی جنت ته داخليدلی نه شی تر څو چې ايمان را نه وړی،تر هغی پوری به تاسی د کامل ايمان څښتنان نه شی تر څو چې يو د بل سره مينه او محبت ونه لری،آيا زه تاسی ته داسی يو کار وښايم چې که هغه کار مو سرته ورسوه يو بل سره مو مينه او محبت پيداکيږی هغه کار دا دی چې تاسی خپلو مينځونو کی يو بل ته سلام اچوئ.**

## د سلام اچولو آداب

اسلامی شریعت د سلام اچولو لپاره ځانګړی آداب وضع کړی دی ، چی په لاندی ډول ذکر کیږی:

۱: مستحبه طریقه داده چی څوک چاته سلام اچوی (السلام علیکم) دی ورته وایی یعنی چاته چی سلام اچوی یو تن وی ، دوه تنه وی یا ډیر وی د ټولو لپاره دجمعی صیغه یعنی

(علیکم) کلیمه دی ورته استعمال کړی ځواب ورکوونکی باید ورته وعلیکم سلامووایی یعنی دسلام د ځواب سر کی واو چی د عطف لپاره دی او د علیکم کلیمه استعمال کړی.

۲: په حدیث شریف کی راغلی دی چی سپور به پیاده باندی سلام اچوی ولاړ به په ناست باندی سلام اچوی لږ خلګ په ډیرو خلګو باندی سلام اچوی او کشر به په مشر باندی سلام اچوی.

۳: په حدیث شریف کی راغلی دی چی کله د دوو تنو ترمنځ ملاقات وشو او دوی یو پر بل سلام واچوه بیا ددوی تر منځ ونه،تیږه،یا دیوال راغی او دوی یو دبل څخه جدا شول کله چی بیا یو د بل سره مخ کیږی باید سلام واچوی.

۴: کله چی یو تن خپل کور ته ننوځی باید سلام واچوی ځکه چی انس (رض) ویلی دی چی ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم داسی مهربانی وکړله:

(یا بنی اذا دخلت علی اهلک فسلم یکن برکة علیک وعلی اهل بیتک) (۹۹:۱۳)

ژباړه: ای بچونیه کله چی خپل کور ته داخلیږی سلام واچوه چی دا سلام په تا کی او ستا کورنی کی برکت واچوی.

۵: په ماشومانو سلام اچول غوره کار دی ځکه چی انس (رض) یوځل په ماشومانو تیریده په هغوی یی سلام واچوه بیا یی وویل رسول الله صلی الله علیه وسلم همداسی کول.

**٦: که د فتنی خطر نه وی نارینه خپلو او پردیو ښځو او ښځې خپلو او پردیو نارینوو ته سلام اچولی شی ځکه چې اسماء بنت یزید (رض) ویلی دی چې موږ دښځو یوه ډله ناست وو رسول الله صلی الله علیه وسلم تیریده پر موږ یی سلام واچوه.**

**٧: همدارنگه ام هانی (رض) ویلی دی چې زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم کورته ولاړم نبی (ص) باندی می سلام واچوه.**



**۸: د سلام الفاظ چی هر څومره زیات وی ثواب او اجر یی زیاتیږی ځکه چی رسول الله (ص) مجلس کی تشریف درلوده یو صحابی راغی په دی الفاظو یی سلام واچوه (السلام علیکم) نبی (ص) د سلام ځواب ورکړ، بیا یی و فرمایل: ددی سړی لپاره لس نیکی ورکړل شوی،بل سړی راغی په دی الفاظو یی سلام واچوه (السلام علیکم ورحمت الله) نبی (ص) ځواب ورکړ بیا یی وفرمایل ددی سړی لپاره شل نیکی ورکړل شوی،دریم سړی راغی او په دی الفاظو یی سلام واچوه (السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته) نبی (ص) ځواب ورکړ بیا یی وفرمایل ددی سړی لپاره دیرش نیکی ورکړل شوی**



## کافر ته سلام اچول

۹: مسلمان به کافر ته اول سلام نه اچوی کله چی کافر ورباندی سلام واچوی نو په ځواب کی به تنها دومره وایی (وعلیکم) ځکه چی رسول الله (ص) فرمایلی دی:

(لا تبدءوا الیهود و لاالنصاری بالسلام)(۳۱:۲۱۴)

ژباړه: کله چی تاسی ته اهل کتابو سلام واچوه نو ووایی(وعلیکم).

په بل حدیث شریف کی راغلی دی:

(اذا سلم علیکم اهل الکتاب فقولوا وعلیکم).(۲۱۳:۳۱).

ژباړه: کله چی تاسی ته اهل کتابو سلام واچوه نو ووایی (وعلیکم).

۱۰: که چیری یو مجلس کی مسلمانان او کافران ګډ ناست وی داسی مجلس باندی سلام اچول جواز لری ځکه چی رسول الله (ص) همداسی مجلس باندی سلام اچولی دی (متفق علیه)

۱۱: کله چی د چا څخه رخصتیږی باید سلام ورته واچوی ځکه چی ر سول الله (ص) فرمایلی دی :

(اذا انتهی احدکم الی المجلس فلیسلم فاذا اراد ان یقوم فلیسلم فلیست الاولی باحق من الاخرة).(۳٦:۷) .

ژباړه: کله چی ستاسی څخه یو تن مجلس ته راځی نو سلام دی واچوی او کله چی د مجلس څخه بیرته ځی چی راتګ د تګ څخه زیات د سلام اچولو مستحق نه دی.




**۱۲:زما پوښتنه داده چی دلمانځه په ترک کوونکی داسی شخص چی دایمآ لمونځ نه کوی باندی سلام اچول او هغه سره نور معاملات داسلام له نظره څنګه دی-**

**ځواب:**

**(بې لمانځه سړي او هر ښکاره فاسق) کبیره ګناه کوونکی (باندې سلام اچول مکروه دي ، همدارنکه قمار بازانو ، شطرنج کوونکو او هر داسې مجلس باندې چې هلته ګناه کیږي سلام اچول زجراً او د ګناه څخه د انکار په نیت سلام اچول نه دي پکار او په داسې خلکو باندې سلام اچول مکروه دي.**

**۱۳:همدارنګه په لاندې صورتونو کې د سلام ځواب ورکول واجب نه دي:**

**د لمانځه په حالت کې ، د خوراک او څښاک په حالت ، د تلاوت ، ذکر ، خطبې او تلبیه ویلو په وخت کې ، د قضاء حاجت په وخت کې ، د اذان او اقامت په وخت کې ، د طفل او نیشه کس ، د ځوانې ښځې چې د فتنې وېره وي ، د فاسق سړي او بیده کس د سلام ځواب ورکول نشته.**



**۱۴:همدارنګه په لاندې صورتونو کې د سلام ځواب ورکول واجب نه دي:**

**د لمانځه په حالت کې ، د خوراک او څښاک په حالت ، د تلاوت ، ذکر ، خطبې او تلبيه ويلو په وخت کې ، د قضاء حاجت په وخت کې ، د اذان او اقامت په وخت کې ، د طفل او نيشه کس ، د ځوانې ښځې چې د فتنې وېره وي ، د فاسق سړي او بيده کس د سلام ځواب ورکول نشته.**



**۱۵: دوهم نا محرمو ښځو ته په ژبه باندې د سلام اچول:**

**د فقهاؤ الف : زړه ښځه چې ښایسته نه وي او د فتنې وېره نه وي هغه ته د سلام اچول په اتفاق جايز دی.**

**(مکروه) ب ) : د يو کس سلام د ښځو يوه ټولې ته او همدارنګه د ضرورت په وخت کې سلام اچول. نه دي (باک نه لري).**

**په دليل د دغه حديث شريف:**

**(علينا رسول أخرجه أبو داود والترمذي وابن ماجة عن أسماء بنت يزيد رضي الله عنها قالت: " مر صلى الله عليه وسلم في نسوة فسلم علينا "). وهذا حديث صحيح.**

**ژباړه :اسماء بنت يزيد رضی الله عنها وايي : پيغمبر صلی الله عليه وسلم زمونږ خوا څخه تېرېدو په حال دا چې زه د ښځو د يوې ډلې سره وم او مونږ ته يې سلام واچولو.**

**۱۶:ځوانې ښځې ته د سلام اچول منع دي :**

**امام نووي رحمه الله په شرح سلام اچول منع دي (چې د فتنې ويره ده) ځوانې ښځې ته که د ښځو ډله وي هغوی ته دې سلام واچول شي که يوازې وي هغه ته: المسلم کې وايي‌ښځې ، د هغې خاوند ، د ولي او محرم سلام اچول باک نه لري اګر که ښايښته هم وي ، مګر که بيګانه ښځه وي دا چې زړه او د شهوت څخه ناهيلې وي هغه ته د السلام**

**اچول مستحب دي او د هغې د سلام ځواب لازم دی ، مگر که ځوانه وي يا د پوخ عمر وي اشتها واله وي هغوی ته د سلام اچول نشته او د هغه ځواب ورکول مکروه دي دا مذهب زمونږ او د حمهورو دی فتح الباري د باب تسليم الرجال على النساء و النساء على الرجال کې داسې وايي:**

**يکره أن يسلم الرجال على النساء والنساء على الرجال وهو مقطوع أو معضل والمراد بجوازه انتهأن يكون عند أمن الفتنة(فتح الباری)**

**د نارينه سلام ښځو ته او د ښځو نارينه ته مکروه دی مگر په هغه صورت کې جايز دی چې د فتنې وېره نه وي.**

**۱۷: ابن عابدين رحمه الله په يو شعر کې داسې وايي:**

**بحثوا في الفقه دعهم لينفعوا مؤذن مكرِّر فقه جالس لقضائه ومن**

**كذا الأجنبيات الفتيات أمنعُ او مقيم مدرس**

**المرأة الشابة ومفهومه : الفتيات " جمع فتية " : قال ابن عابدين في حاشيته**

**جوازه على العجوز**

**د شرعي علم زده کوونکي ، د شرعي علم تدريس کوونکي ، : يعني قضای حاجت ته ناست کس او مؤذن او ځوانو ښځو ته د سلام اچول منع دي.**

**و الله سبحانه وتعالى اعلم**

**ماخذونه:**

- د اسلام اخلاقی نظام
- انټرنیټ